**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت**
**د عامه اړیکو او رسنیو ریاست**

## مطبوعاتي اعلامیه

نېټه: د ۱۳۹۷ هـ ل د غوايي ۲۳مه

**د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر د هندوستان د نوي سفیر سره ولیدل**

د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي نن یک شنبه د روان ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د ثور په ۲۳مه نېټه د افغانستان لپاره د هندوستان د نوي سفیر ښاغلي وینی کومار سره تعارفي لیدنه وکړه.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر محترم شهزاد اریوبي په سر کې د هندوستان سفیر ته هر کلی وویل او زیاته یې کړه چې هندوستان د افغانستان یو ښه ګاونډي او په خاصه توګه د مخابراتو په برخه کې ښه همکار پاتې شوی.

په دغه لیدنه کې دواړو لوریو د سیمه ییز اتصال په رامنځته کېدو او د معلوماتي ټکنالوجۍ اومخابراتو په سکټور کې د افغانانو د ظرفیت لوړني په برخه هر اړخیزې خبرې وشوې چې د هندوستان سفیر ددغه هېواد د کلکې همکارۍ او په دې برخه کې د پوره ملاتړ ژمنه وکړه.

همدا راز د مخابراتو او معلو ماتي ټکنالوجۍ (ICT) په برخه کې د بورسو نو تخصیص، د ستلایټ په برخه کې همکاري او نورو اړونده موضوعاتو په اړه بحث او د نظر تبادله وکړه.

د ویلو ده چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له دې وړاندې د هندوستان د پخواني سفیر ښاغلي من پریت ووهرا سره هم د دوه اړخیزه همکاریو او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د هندوستان د مرستو د جذب په موخه مسلسلې ناستې او لیدنې کړې دي.